# إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ؟

له نعمان بن بشیر رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې: ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې ویل یې: - او دلته نعمان رضي الله عنه خپلې دواړه ګوتې غوږونو ته پورته کړې، معنا دا چې په دواړو غوږونو مې ترې اوریدلي دي - : «إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَإِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَأَ لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ، وَمَنْ وَقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ، كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ، أَلَا وَإِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً، إِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، وَإِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهُ، أَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ». "یقینا چې حلال څرګند او حرام څرګند دي، او ددې دواړو تر منځه هغه چارې دي چې حلال او حرام یې څرګند ندی (شکي چارې دي) چې ډېری خلک پرې نه پوهېږي، نو چا چې لدې شکي چارو څخه ځان وساته په حقیقت کې هغه خپل دین او عزت وساته، او څوک چې پدې شکي چارو کې ښکېل شو هغه په حرامو کې ولوېد، لکه یو چوپان چې د فصل (پټي) خواوشا رمه څروي نو - هره شیبه - شوني ده چې ورګډه شي او پکې وڅریږي - خبردار اوسئ چې هر پادشاه د ځان لپاره منع شوي ځایونه لري چې هلته ورننوتل منع وي - نو خبردار اوسئ چې د الله تعالی منعه شوي ځایونه د هغه محارم دي؛ یعني هغه کارونه چې هغه حرام کړي دي، خبردار اوسئ چې په بدن کې د (غوښې) یو ټوټه ده، "که هغه روغه وه ټول بدن روغ دی، او که فاسده وه نو ټول بدن فاسد دی، خبردار اوسئ چې هغه زړه دی.

[(صحیح) [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم د شیانو په اړه عمومي قاعده بیان کړې ده، چې په شریعت کې - شیان - په درېو برخو وېشل شوي دي: ښکاره حلال، ښکاره حرام او مشکوک شیان چې د حلال او یا حرام حکم یې څرګند ندی، او ډېری خلک یې له حکم څخه ناخبره دي. نو چا چې هغه مشکوک شیان پرېښودل، له حرامو څخه په لرې پاتې کېدلو سره یې دین وساتل شو، او ابرو او عزت یې هم د خلکو له خبرو څخه خوندي پاتې شو، ځکه چې له هغه څه نه یې ځان ساتلی چې کول یې خلک عیب ګڼي. او څوک چې له مشکوکو کارونو څخه ډډه ونکړي، نو یا خو به په حرامو کې واقع شي، او یا دا چې عزت به یې د خلکو له خبرو څخه خوندي پاتې نه شي. او رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه چا بېلګه بیان کړه چې شکمن کارونه کوي چې مثال یې د هغه چوپان په څېر دی چې خپله رمه د یو چا د ساتل شوي فصل خواوشا څروي، نو شوني ده چې رمه په نوموړي کرونده ورګډه شي، ځکه چې ورته نږدې ده، نو همدا مثال د هغه چا دی چې شکمن کارونه کوي، ځکه هغه پدې سره حرامو ته نږدې کیږي نو شوني ده چې په حرامو کې واقع شي. وریسې رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې (د انسان) په بدن کې د غوښې یو ټوټه ده (چې هغه زړه دی) په روغ پاتې کېدلو سره یې بدن روغ وي او په فاسد کېدلو سره یې فاسدیږي.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee